دافغانستان اسلامي امارت

د ارشـــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت

د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد

دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

۲۸/ ذی القعده/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۵/ ثور/۱۴۰۵هـ، ش

# د الله تعالیٰ په قضاء او تقدير ايمان لرل او وربانديې راضي اوسيدل

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله مقدِّر الأقدار، ومسخِّر الليل والنهار، والصلاة والسلام على سيدنا محمد أبَّر الأبرار، وعلى آله وصحبه الأخيار، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى: (مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الأَرْضِ وَلاَ فِي أَنفُسِكُمْ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ، لِكَيْلاَ تَأْسَوْا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلاَ تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لاَ يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ). الحديد :( ۲۲ – ۲۳ )

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

درنو حاضرينو د جمعې ورځې د تقرير او بيان يو مقصد دادی چې خلک د خپل دين څخه خبر شي، د خپلو عقايدو څخه خبر شي او کله چې مسلمان د خپل ايمان له ښکلا څخه خبر شي،نو په زړه کې ورته داډ پيداکيږي او د مشقتونو او تکليفونو په مقابل کې يې قوت، صبر او زغم نور هم زياتيږي. زمونږ د نن ورځ د تقرير موضوع د الله تعالیٰ په قضاء او تقدير ايمان لرل او وربانديې راضي اوسيدل ده.

د ايمان له ارکانو څخه يو هم د الله تعالی په قضاء او تقدير باندې ايمان درلودل دي او دالله تعالی په قضاء او تقدير باندې راضي اوسيدل دي. لکه چې د جبريل په هغه مشهور حديث کې چې راځي: « أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ » صحيح مسلم (۱ /۲۸)

ژباړه: (نبي عليه السلام د جبرائيل عليه السلام په ځواب کې وفرمايل: ايمان دادی چې ته) ايمان راوړې په الله تعالی د هغه په ملائکو او د هغه (الله) په رسولانو او ته ايمان راوړې په ورځ آخره او ته ايمان راوړې په تقدير د خير دالله تعالی او په تقدير دشر دالله تعالی.

د الله تعالی د قضـاء او تقدير څخه زمونږ مقصـد دادی، چې الله تعالی د خپل ازلي علم په اســاس چې پر مخلوقاتو يې لري د مخلوقاتو تقدير يې مخکې د دوی د پيدايښت څخه ليکلی دی. الله په لوح محفوظ کې دانسانانو د مرگ نيټه د دوی د روزی اندازه او کيفيت، ددوی نيک او بد عملونه، د انسانانو نيکمرغي او بدمرغي ټول يې ليکلې دي او هغه يې اندازه کړي دي او هر هغه څه چې واقع شـوي دي او يا واقع کيدونکي دي، که هغه آفتونه دي، که هغه عذابونه دي، يا هغه جنگونه دي، يا هغه مرضـونه او وباگانې دي ،يا هغه صحت دی او يا د رزق پراخي ده، داټول الله تعالی په ازل په لوح محفوظ کې ليکلي دي او ددې شيانو د واقع کيدو نيټه او وخت او کيفيت او اندازه يې هم ليکلې ده او ټول ښه او بد د قضاء او تقدير سره سم او موافق واقع کيږي.

څه چې الله غوښتي دي هغه واقع کيدونکي دي او څه يې چې نه دي غوښتي هغه نه واقع کيږي . نو هيڅ يوه پيښه په نړۍ کې نه پيښيږي، مگر د الله د مشيت او قدرت سره پښيږي.

په قضاء او تقدير باندې ايمان درلودل د ايمان له ارکانو څخه يو لوی رکن دی چې د هغه په واسطه د مؤمن لپاره هوسايي او ډاډ حاصليږي او څه چې د دنيا له مال او ژوندانه څخه له لاسه ورکوي او يا کومې دبدبې او چوکۍ ته چې نه رسيږي او يا څه رنځ او کړاو ورته پيښيږي نه پرې غمجن کيږي؛ ځکه دی پوهيږي چې ټول کارونه د الله په قضا او تقدير سره مخکې ځي او پرته د الله تعالی له ارادې څخه هيڅ شی نه واقع کيږي، که ده ته خوشحالي ورسيږي په هغې د الله شکر اداء کوي او که څه غم او تکليف ورتـه ورسـيږي په هغې د زغم څخه کار اخلي او په دواړو حالتونو کې د ده په ښــيگڼه تماميږي .لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئاً وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئاً وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ).البقرة:(۲۱۶)

ترجمه: او ښايي چې بد گڼئ تاسې يو شی حال دا چې هغه ډېر بهتر وي تاسې لره او ښايي چې ښه وگڼئ تاسې يو شی حال دا چې هغه به ډېر بد وي تاسې ته او الله عالم دی (په خير ستاسې)او تاسې نه پوهيږئ (په خير خپل).

د قضا او تقدير په اړه الله تعالی فرمايي :(وَكُلَّ شَيْءٍ أحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ )يس:(۱۲)

ترجمه:او هر شی شمېرلی دی مونږ هغه په اصل ښکاره (لوح محفوظ کې).

په يوبل مبارک آيت کې راځي: (وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ) الأنعام:(۵۹)

ترجمه: او خاص هم دغه الله سره دي کيلي گانې د خزانې د غيب چې نه پوهيږي په هغو (بل هيڅوک) مگر (عالم دی پرې) هم دی او پوهيږي الله په هغه چې په بر (وچه) کې او په بحر کې دي او نه لويږي هيڅ يوه پاڼه مگر چې عالم دی په هغه الله او نه لويږي کومه دانه په تيارو د ځمکې کې او نه دی هيڅ لوند او هيڅ وچ مگر (ثابت شوي دي) په کتاب مبين (لوح محفوظ)کې.

په يو بل مبارک أيت کې الله تعالی فرمايي : (إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ) القمر :( ۴۹ )

ترجمه:بېشکه مونږ هر شی پيدا کړی مو دی په (ړومبني ازلي) اندازه سره.

په يو بل مبارک آيت کې راځي:(وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُسْتَطَرٌ).القمر:(۵۳)

ترجمه: او هر وړوکی او لوی (عمل که خير وي که شر وي) ليکلی شوی دی (په لوح محفوظ کې).

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا). الفرقان:(۲)ترجمه:او پیدا کړي دي الله هر شی پس په اندازه کړي يې دي هغه (شی) په اندازه کولو سره.په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « كَتَبَ اللَّهُ مَقَادِيرَ الْخَلاَئِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ». صحيح مسلم (٨ /٥١)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وايې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې داسې يې وفرمایل: لیکلي دي دي الله تعالی تقدیرونه د خلکو مخکې له دې چې آسمانونه او ځمکه پیدا کړي پنځوس زره کاله وړاندې.

په یو بل روایت کې راځي: عن ابن الديلمي رضي الله عنه ، قال : « لَقِيتُ أبيَ بنَ كَعبٍ فَقُلْتُ : يا أَبَا المُنذِرِ إنَّهُ قَد وَقَعَ في نَفسِي شَيءٌ مِن هَذَا القَدَرِ ؛ فَحَدِّثني بِشَيءٍ لَعَلَّهُ يذهَبُ مِن قَلبِي، قَالَ : ...ولَو أنفَقتَ جَبَلَ أُحُدٍ ذَهَبَاً في سَبِيلِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ ما قَبِلَهُ اللهُ مِنكَ حتى تُؤمِنَ بِالقَدَرِ، وَتعلَمَ أَنَّ مَا أَصابَكَ لَم يكُن لِيخطِئَكَ، وَمَا أخطَأَكَ لَم يكُن لِيصِيبَكَ، وَلَو مِتَّ على غَيرِ ذَلِكَ لَدَخَلتَ النَّارَ، قَالَ : فَأَتَيتُ حُذَيفَةَ فَقَالَ لِي مِثلَ ذَلِكَ، وَأَتَيتُ ابنَ مَسعُودٍ فَقَالَ لِي مِثلَ ذَلِكَ، وأَتيتُ زَيدَ بنَ ثَابِتٍ فَحَدَّثَني عَنِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم مِثلَ ذَلِكَ». سنن أبى داود-ن (٤ /٣٦١)

ژباړه: له ابن دیلمی رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وايي د ابی بن کعب رضي الله عنه سره مې ملاقات وشو ، نو ورته ومې ویل: ای د منذر پلاره ! د تقدیر په هکله مې په خپل نفس کې څه واقع شوي دي، نو د تقدیر په هکله یو څه راته بیان وکړه ترڅو هغه څه چې مې په زړه کې واقع شوي دي هغه لمنځه ولاړ شي. أُبی بن کعب رضي الله عنه وویل او که د أحد د غره په اندازه سره زر د الله په لاره کې صدقه کړې، الله به هغه له تا څخه قبول نکړي ، ترڅو په قدر ایمان ونه لرې او باید پوه شې چې څه درته رسیدونکي دي هغه به در نه خطا نشي او هغه څه چې درته نه دی رسیدلي ، هغه هیڅکله تا ته نشي رسیدلی او که پرته له دې عقیدې مړ شې خامخا به دوزخ ته داخل شې.

ابن دیلمي رضي الله عنه وايې بیا زه حضرت حذیفه بن یمان رضي الله عنه ته ورغلم هغه هم راته همداسې خبره وکړه او بیا زه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته ورغلم ، هغه هم راته همداسې خبره وکړه او بیا زه زید بن ثابت رضي الله عنه ته ورغلم هغه هم راته همداسې خبره وکړه.

الله تعالی خیر او شر دواړه پیدا کړي دي او انسان ته يې د خیر په کولو او نه کولو او د شر په کولو یا نه کولو کې اختیار ورکړی دی.لـه بلې خوا الله تعالی انســانانو ته عقل ورکړی دی او رســولان يې ورته وخت په وخت رالیږلي دي او خیر او شر يې ورته وربښوولي دي او ورته يې ویلي دي چې الله تعالی خیر او نیکي پیدا کړې ده،او څوک چې د خیر کارونه کوي الله تعالی ورسره مینه او محبت ساتي او مرسته هم ورسره کوي.

همداراز الله تعالی شر هم پیدا کړی دی او انسانانو ته يې د رسولانو او نبیانو په ژبه ویلي دي چې الله تعالی شر نه خوښوي او د شر مرتکب هم نه خوښوي. لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:(إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِراً وَإِمَّا كَفُوراً)الانسان:(۳)

ترجمه: بېشکه مونږ وربښوولې ده دغه (انسان) ته سمه لاره (په لیږلو د رسولانو او په دلائلو د عقل سره) یا به وي دی شکر کوونکی او یا به وي دی ناشکره.

**د مولانا اشرف علي تهانوي آسانه حل:** حكيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي د قدر مسئله د يوه مثال په ترڅ کې خورا ښه واضحه کړي ده نوموړی ليکي: يو پاچا په ميدان کې پراته يوه کاڼي ته اشاره وکړي او اعلان يي وکړي، چې خلک د دې کاڼي په پورته کولو او پر ځای پرېښولو کې اختيار لري.، زما عسکر به يو لوری هم پورته کولو يا نه پورته کولو ته اړ نه باسي، البته زه په دي خوښ يم چې څوک دا کاڼی له خپله ځايه پورته کړي، او که چا دا کار وکړ هغه ته به انعام ورکړم او که چا زما خوښـــي ته ارزښـت ورنکړ هغه به مجازات کړم، البته ماته دا هم څرګنده ده چې څوک به زما خوښـي ته ارزښـت ورکوي او څوک به يې نه ورکوي، دباچا دغه پوهنه تقدير دی.

**د الله تعالی په قضاء او تقدير راضي اوسيدل:**

د الله تعالی په قضـاء او تقدير راضي کيدلو څخه مراد دادی چې انسان بې له تردده په خوښۍ سره هغه څه قبول کړي چې الله تعالی دده لپاره مقرر کړي دي .

د الله تعالی په اوامرو راضي کيدل او د الله تعالی د نواهيو څخه د ځان ســاتلو باندې راضي اوســيدل، د الله تعالی له طرفه په مشقتونو او مصيبتونو باندې باندې راضي اوسيدل ، د الله تعالی په نعمتونو راضي اوسيدل، د الله تعالی په ورکړه او عطاء باندې راضي اوسيدل ، د الله تعالی په سختی، فقر او په مريضتيا باندې راضي اوسيدل د الله تعالی په قضاء او تقدير باندې ايمان لرل او ورباندې د راضي اوسيدلو مفهوم دی. الله تعالی فرمايلي دي:(قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلاَّ مَا كَتَبَ اللّهُ لَنَا هُوَ مَوْلاَنَا وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ).التوبة:(٥١)

ترجمه:ووايه (ای محمده! دوی ته) له سره به ونه رسيږي مونږ ته مګر همغه چې ليکلي دي الله زمونږ لپاره همدغه (الله) دی مولا (کار جوړوونکی) زمونږ او (خاص) پر همدغه الله باندې دې نو توکل (اعتماد)کوي مؤمنان ( دهيلو په تر سره کېدلو د اړتياو په پوره کېدلو او د آفتونو څخه په ژغورلو محفوظولو) کې .

د الله تعالی په قضـاء او تقدير باندې د راضي اوسـيدلو له مصـاديقو څخه د الله تعالی په راليږلو ديني اوامرو او نواهيو باندې راضي اوسيدل او په رضايت سره د الله تعالی اوامر په سمه توګه انجامول او د الله تعالی له نواهيو او ممنوعاتو څخه ځان ساتل او دالله ټولو حکمونو او فيصلو ته غاړه ايښودل.

د حضرت محمدصلی الله عليه وسلم په رسالت او نبوت باندې راضي اوسيدل. او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ته په خپل ځان ، مال او اولاد باندې ترجيح ورکول او د هغه د سُنتو او ويناوو متابعت او پيروي کول او درسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه راوړي دين او شريعت څخه په ځان او مال سره په رضايت سره دفاع کول.

په خپل حالت راضي اوسيدل، په خپل فقر او تنګسی ، مرض، بنديتوب ، مسافری او په ځاني او مالي مشکلاتو راضي اوسيدل او داويل چې هرکله دا مشکلات د الله جل جلاله له طرفه دي، نو ماته په سر او سترګو منظور دي ځکه چې دا زما د رب او خالق له طرفه دي .

په خپل روغ صحت ، خوښی ، خوشحالی ، ثروت او مالداری‌باندې راضي اوسيدل او له زيات حرص او بُخل څخه ځان ساتل او دا ويل چې دا هر څه ما ته الله تعالی راکړي دي او زما د رب او خالق له طرفه دي او زه بايد ورباندې شکر وباسم او د خپل رب په لارو کې يې خرچ کړم.

د الله تعالی په قضـاء او تقدیر باندې راضي اوسـیدل د ایمان برخه ده.یعنې په دې راضي اوسـیدل چې هرڅه چې انسـان ته پیښیږي، د الله تعالی په لیک او علم سره رسیږي، برابره خبره ده که هغه خوشحالي ده او که غم دی، که هغه کامیابي ده او که ناکامي ده ، که هغه مریضي- ده او که صحت دی ، که هغه غریبي ده او مالداري ده، ټول د الله تعالی له خوا څخه دي او الله تعالی وربانډې عالم او پوهه دی او هرکله چې هر مصیبت، غم ، درد، او تکلیف د الله تعالی له طرفه دي او دالله په واک کې دي ، نو مونږ باید وربانډې راضي اوسو او صبر وربانډې وکړو.

همدا راز هرکله چې هره خوشحالي ، صحت ، کامیابي ، ثروت او مالداري د الله تعالی له طرفه دي او پرته د الله د علم څخه د ونې یوه پاڼه حرکت هم نشي- کولی، نو باید د الله تعالی په دغو نعمتونو شـکر وباسـو او الله تعالی ته یې نسبت وکړو.د الله تعالی په فیصلو راضي اوسیدل د ایمان تقاضـا ده . الله تعالی په یو مبارک آیت کې فرمایي: ( مَا أَصَـابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الأَرْضِ وَلاَ فِي أَنفُسِكُمْ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ، لِكَيْلاَ تَأْسَوْا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلاَ تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لاَ يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ). الحدید :( ۲۲ – ۲۳ )

ترجمه: نه رسیږي هیڅ مصیبت آفت غم په ځمکه او نه ستاسې په ځانونو کې مگر هغه خو لیکلی شوی دی په کتاب (لوح محفوظ) کې پخوا له هغې څخه چې پیدا کړی وي مونږ هغه( په دنیا کې) بېشکه دا (اندازه پخوا له پیدا کولو) پر الله ډېر آسانه ده. لپاره د د دې چې خفه نشئ تاسو پر هغه څه چې فوت شوي له لاسه وتلي دي د تاسو او خوشاله نشئ تاسې په هغه څه چې تاسې ته یې درکړي وي (په خوشحالتیا د کبر او هوا سره). او الله نه خوښوي هر متکبر (په نعمت باندې) او فخر کوونکی (په نورو باندې).

په یو بل مبارک أیت کې راځي:(مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ).التغابن: (۱۱)

ترجمه:نه رسیږي هیڅ مصیبت ،غم، درد هیڅا ته مگر خو (رسیږي) په اذن حکم د الله سره ، او هغه څوک چې ایمان یې راوړی دی په باندې لاره ښیي (الله) زړه د ده ته (د صبر او ثبات).

په حدیث شریف کې راځي عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال : قال رسـول الله صـلی الله علیه وسلم: « لاَيُؤمِنُ عَبدٌ حتى يؤمِنَ بِالقَدَرِ خَيرِهِ وَشَرِّهِ، حتى يعلَمَ أنَّ مَا أَصَابَهُ لَم يكُن لِيخطِئَهُ ،وَأنَّ مَا أخطَأَهُ لَم يكُن لِيصِيبَهُ ».سنن الترمذي (٤ /٤٥١)

ژباړه: دحضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل مؤمن کیدی نشي بنده ، ترڅو چې د تقدیر په خیر او شر باندې ایمان ونه لري او په دې پوهه شي، هر څه چې ده ته رسیدلي دي ، ممکن نه دي چې ده لره خطا کړي (او بل چاته ورسیږي) او هغه څه چې ورته نه دي رسیدلي ، نو امکان نلري چې ورته ورسیږي. یعنې دا هرڅه د الله تعالی په ازلي او کامل علم سره په دقیقه توگه اندازه شوي دي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي عن ابن عباس رضي الله عنه قال : کنت خلف رسـول الله صـلی الله علیه وسلم یوماً فَقَالَ: « ياغُلاَمُ ! إنيِّ أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ : احفَظِ اللهَ يحفَظْكَ، احفَظ اللهَ تَجِدهُ تُجَاهَكَ، إذَا سَألتَ فَاسألِ اللهَ، وَإذَا استَعَنتَ فَاستَعِن بِاللهِ، وَاعلَم أنَّ الأمَّةَ لَوِ اجتَمَعَت على أن ينفَعُوكَ لَم ينفَعُوكَ إلاَّ بَشيءٍ قَد كَتَبَهُ الله لَكَ، وَلَوِ اجتَمَعُوا على أن يضُرُّوكَ بِشَيءٍ لَم يضُرُّوكَ إلاَّ بِشَيءٍ قَد كَتَبَهُ الله عَلَيكَ، رُفِعَتِ الأقلاَمُ، وَجُفَّتِ الصُّحُفُ » . سنن الترمذي (٤ /٦٦٧)

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: یوه ورځ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه وروسته وم نبي علیه السلام فرمایل ای هلکه ! څو خبرې درته ښایم: الله په یاد ساته ( یعنی د الله امرونه عملي کړه او له څه نه یې چې منع کړی یې د هغه نه ډډه وکړه) الله به تا په یاد وساتي، الله په یاد لره هغه به په قیامت کې مخامخ ومومې، او که څه غواړې له الله نه یې غواړه او که چیرې مرسته غواړې له الله نه یې غواړه او په دې پوه شه که ټول امت (خلک ) راټول شي، تر څو تا ته ګټه ورسوي، تا ته ګټه نشي رسولی، مګر هغه څه چې الله تعالی درته په تقدیر کې لیکلي وي او مقدر کړي وي او که ټول خلک راټول شي ، ترڅو تا ته ضرر ورسوي ـ ضرر او زیان درته نشي رسولی، مګر هغه څه چې الله ستا لپاره ( په تقدیر کې) لیکلي او مقدر کړي وي، قلمونه پورته شوي دي او صحیفې وچې شوې دي ( یعنې څه چې مقدر دي هغه په لوح محفوظ کې ثبت دي او پرته د هغو فیصلو بل څه منځ ته نشي راتللای).

**واقعه:** څه چې الله جل جلاله لیکلي دي هغه حتماً واقع کیدونکي دي: امام حمیدی رحمه الله یوه واقعه ذکر کړی ده .

یوه ورځ احمد بن سعید بن حزم وزیر د خپل امیر المنصور بن ابي عامر په مجلس کې ناست ؤ او دغه امیر به یوه داسې ټاکلې وه چې په هغې کې به یې د خلکو شکایتونه اوریدل. دده مجلس ته یوه زړه بوډۍ راغله چې ډیری کمزوری وه او په لاس کې ورسره یوه عریضه چې په هغه عریضه کې یې لیکلي ؤ الله تعالی امیرته عزت ورکړي او پاچاهي دې دائمه وي... منصور بن ابي عامر امیر ورته وویل: چې ته څه غوښتنه لرې؟ هغې ښځې وویل: زما زوی په محبس کې دی د ډیرې زمانې څخه او هغه زما خدمت کوي او زما مشکلاتو ته رسیدګي کوي که چیرې هغه له بنده آزاد شي ،نو زما مشکلات به حل شي. امیر ورته وویل: ستا د زوی څه نوم دی؟ هغه بوډۍ وویل: فلانی ولد وفلانی.

نو امیر د قهر او غضب د لاسه تک سور واوریدلو او وه یې ویل( یُصلب، یُصلب، یُصلب) هغه به په دار کیږي ، هغه به په دار کیږي ، هغه به په دار کیږي او امیر چیغې کړې. بیا اداري فیصله ولیکله ترڅو په فیصله کې د هغه ځوان په دار کول ولیکي، نو فیصله یې ولیکله او وزیر ته یې ورکړه ترڅو چې وزیر یې د محبس مسئول ته ورکړي ، کله چې د امیر فیصله د محبس مسئول ولوستله ، نو هغه څه چې په کې لیکل شوي ؤ هغه یې نافذ کړل او هغه ځوان یې له محبس څخه خلاص کړ او ځوان په خپله مخه ولاړ. کله چې امیرخبر شو چې هغه ځوان چې ده یې په اړه په دار کولو فیصله کړی وه هغه له محبس څخه آزاد کړل شوی دی ،ډیر زیات په غضب شو او وه یې ویل آیا ما درته نه ؤ ویلي چې هغه به په دار کیږي . وزیر او د محبس مسئول زیاتې ویرې له امله ولړزیدل. نو د محبس مسئول وویل: الله تعالی باعزته لره امیره! دا هغه څه ؤ چې تا راته پرې امر کړی ؤ او هغه د امیر فیصله خط یې امیر ته ورکړ کوم چې هغه په خپل لاس لیکلی ؤ، نو امیر فیصله خط ولوستلو ، نو وه یې لیدل چې د (یُصلب) پرځای یې (یُطلق) یعنې آزاد دې شي لیکلي ؤ.

نو وګوره کله چې الله تعالی هغه ځوان ته آزادي لیکلې وه، نو همغه کار وشو او الله تعالی د امیر په لاس یې د (په دار دې شي) پرځای (آزاد دې شئ) ولیکل او د هغه ځوان د مور حاجت پوره شو. جذوة المقتبس في ذكر ولاة الأندلس، للحميدي(ص: ٤٦)

رضا بالقضاء د سعادت نښه ده او په خپله برخه باندې خپګان کول د شقاوت نښه ده. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنْ سَعَادَةِ ابْنِ آدَمَ رِضَاهُ بِمَا قَضَى اللَّهُ لَهُ، وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ تَرْكُهُ اسْتِخَارَةَ اللَّهِ، وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ سَخَطُهُ بِمَا قَضَى اللَّهُ لَهُ» .سنن الترمذي ت شاكر (٤ /٤٥٥)

ژباړه: د سعد رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د بني آدم د نیکبختی څخه د هغه راضي اوسیدل دي په هغه څه باندې چې الله تعالی دده فیصله کړي دي او د بني آدم له بدبختی څخه پریښودل دده دي دالله تعالی څخه د خیر د غوښتلو او د بني آدم دبدبختی څخه دده عدم رضایت دی په هغه څه چې فیصله کړې دي الله دده لپاره.

امام جعفر صادق رحمه الله خپل زوی ته داسې وصیت وکړ:( يَا بُنَيَّ اقْبَلْ وَصِيَّتِي، وَاحْفَظْ مَقَالَتِي، فَإِنَّكَ إِنْ حَفِظْتَهَا تَعِشْ سَعِيدًا وَتَمُتْ حَمِيدًا، يَا بُنَيَّ مَنْ رَضِيَ بِمَا قُسِمَ لَهُ اسْتَغْنَى، وَمَنْ مَدَّ عَيْنَهُ إِلَى مَا فِي يَدِ غَيْرِهِ مَاتَ فَقِيراً، وَمَنْ لَمْ يَرْضَ بِمَا قَسَمَهُ اللهُ لَهُ اتَّهَمَ اللهَ فِي قَضَائِهِ). حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (٣ /١٩٥)

ای بچیه! زما وصیت قبول کړه ، که چیرې دادې یاد کړل ،نو ته به خوشبخته ژوند ولرې او په ښه حالت کې به وفات شئ. ای بچیه! څوک چې راضي شي په هغه څه چې الله تعالی دده لپاره په مقرر کړي دي ، نو غني به وي او چاچې سترګې واچولې هغه ته چې د نورو خلکو په لاس کې دي ، نو په داسې حالت کې به مړ شي چې فقیر به وي. او څوک چې په هغه څه راضي نشو چې الله تعالی دده په قسمت کې لیکلي دي، نو ده الله تعالی (نعوذبالله) متهم کړ په فیصله کې.

په قضاء او تقدیر ایمان لرل او په هغې راضي اوسیدل ، په زړه کې خوښي او په زړه کې اطمینان او نفسي راحت رامنځ ته کوي.

په قضاء او تقدیر ایمان لرل او وربانديې راضي اوسیدل د لوی اجر او دالله تعالی درحمت سبب دی. الله تعالی فرمایي: (وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوفْ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمَوَالِ وَالأنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِين * الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعون * أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُون). البقرة:( ١٥٥-١٥٧)

ترجمه:او خامخا مونږ آزمویو تاسې په یوه شي چې هغه عبارت دی (د دښمن) له وېرې او له لوږې (قحط) او له کموالي د مالونو (په راز راز افتونو سره) او د نفسو (په قتل،موت،مرض،او نورو) او د مېوو (په آسماني او ځمکني آفتونو سره).او زیری ورکړه صبر کوونکو ته ( په جنت سره، صبر کوونکي) هغه کسان دي کله چې وررسېږي دوی ته څه مصیبت نو وایي دوی بېشکه مونږ (مملوک) د الله یو اوبیشکه مونږ (مملوک) د الله یو او بېشکه مونږ هم دغه (الله ته) بیا ورتلونکي یو (په آخرت کې) دغه کسان په هم دوی ده ثناء او صفت او په نېکه یادونه (له طرفه د) رب د دوی او مهرباني ده او دغه کسان هم دوی دي سمه لاره موندونکي (حق ته).

په قضاء او تقدیر ایمان لرل او په هغې راضي اوسیدلو سره په زړه کې غنیٰ پیداکوي. په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایلي دي: «وَارْضَ بِمَا قَسَمَ اللهُ لَكَ تَكُنْ أَغْنَى النَّاسِ» مسند أحمد (١٣ /٤٥٨)

ژباړه: او راضي اوسیږه په هغه څه چې مقدر کړی دی الله تعالی ستا لپاره ، په خلکو کې به غني ترین شخص شي .

څوک چې په قضاء او تقدیر ایمان لري او په هغې راضي اوسېږي هغه د خلکو د ضرر او نقصان څخه هیڅکله نه ویرېږي.

نبي علیه السلام فرمایي: « وَاعلَم أنَّ الأمَّةَ لَوِ اجتَمَعَت على أن ينفَعُوکَ لَم ينفَعُوکَ إلاَّ بَشيءٍ قَد كَتَبَهُ الله لَکَ، وَلَوِ اجتَمَعُوا على أن يضُرُّوکَ بِشَيءٍ لَم يضُرُّوکَ إلاَّ بِشَيءٍ قَد كَتَبَهُ الله عَلَيکَ » . سنن الترمذي (٤ /٦٦٧)

ژباړه: او په دې پوه شه که ټول امت (خلک ) راټول شي، تر څو تا ته ګټه ورسوي، تا ته ګټه نشي رسولی، مګر هغه څه چې الله تعالی درته په تقدیر کې لیکلي وي او که ټول خلک راټول شي، ترڅو تا ته ضرر ورسوي تاته ضرر نشي رسولی، مګر هغه څه چې الله ستا لپاره ( په تقدیر کې) لیکلي دي.

په قضاء او تقدير ايمان درلودل او په هغې راضي اوسيدل په انسان کې شجاعت او قوت پيداکوي. ځکه هغه انسان چې په قضاء او تقدير ايمان لري او ورباندې راضي وي او په دې پوهيږي چې څه ورته رسيږي او مرگ په نيته دی او پرته له نيتې څخه مرگ نشته، نو داسې شخص شجاع وي او له مرگونو نه ويريږي. الله تعالی فرمايلي دي: (وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلاَّ بِإِذْنِ الله كِتَابًا مُّؤَجَّلاً ). آل عمران:(۱۴۵)

ترجمه: او نشـته هيڅ نفس لره دا چې مړ شي مگر په اذن (حکم) د الله سره چې ليکلی شـوی دی (دا مرگ) په يوه مقرر وخت کې.( چې نه وړاندې او نه وروسته کيږي).په يو بل مبارک آيت کې راځي:(وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاء أَجَلُهُمْ لاَ يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلاَ يَسْتَقْدِمُونَ).الاعراف:(۳۴)ترجمه: او هر يوه امت ته يو اجل (نيته) شته (د مرگ يا د عذاب که ايمان رانه وړي) نو کله چې راشي اجل د دوی نه به وروستي کيږي دوی ترې يو ساعت او نه وړمبی کيږي دوی ترې. څوک چې په قضاء او تقدير ايمان لري او په قضاء او تقدير راضي وي، نو داسې کس په هغه څه پسې افسوس او ارمان نکوي چې دده دلاسه وتلی وي .

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « الْمُؤْمِنُ الْقَوِىُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ وَفِى كُلٍّ خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ وَلاَ تَعْجِزْ وَإِنْ أَصَابَكَ شَىْءٌ فَلاَ تَقُلْ لَوْ أَنِّى فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا. وَلَكِنْ قُلْ قَدَرُ اللَّهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ ». صحيح مسلم(۸ /۵۶)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الل عليه وسلم وفرمايل : قوي مؤمن غوره دی او ډير خوښ دی الله تعالی ته د کمزوري مؤمن څخه او په هريو قوي او کمزوري کې خير شته دی. حريص اوسه په هغه څه چې تاته نفع او فائده رسوي او کومک وغواړه دالله څخه او عاجز مه پاتې کيږه (د نفعې له کار او د الله تعالی څخه د مرستې له غوښتلو څخه) او که چيرې تاته کوم شی ورسيده (له مصيبت نه او يا تاوان څخه) ، نو داسې مه وايه ، که چيرې داسې کار مې کړی وی يا داسې کار مې کړی وی( نو ماته به مصيبت او تاوان نه رسيدلو) ، مگر داسې ووايه : د اد الله تعالی تقدير دی او هرڅه چې الله تعالی غواړي هغسې کوي .که چيرې ته پورتنۍ فرضي خبرې وکړې ، نو ځان ته به خلاصه کړې دروازه د شيطان. يعنې د قضاء او تقدير په خلاف خبرې به وکړې. ځان ته به د حسرت او ارمانونو او خيالي وهمونو دروازه برسيره کړې او په رواني تکليف به اخته شئ.

البته ټول کارونه دالله تعالی قضاء او تقدير ته سپارل په کار دي ، خو ددې ترڅنگ د اسبابو د استعمال څخه هم مه بې غوره کيږه. مثلاً که مريض شوې ، نو بايد علاج وکړې او ډاکټر ته مراجعه وکړې او د علاج څخه وروسته کارونه بيا قضاء او تقدير ته وسپاره او په الله تعالی توکل وکړه.

**وَصَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَصَحبِهِ أَجمَعِين.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**